Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# د کابل د ځوانانو د روزنې په مرکز (دارالتادیب ) کې دجدي سرغړونو ادعا

**Author:** Mina Habib

په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریالې، مینا حبیب لیکنه

یوه شپه مې له تلویزیون څخه په خبرونو کې د مسعود په نامه د یو اوولس کلن ځوان کیسه واوریده چې د کابل  د ځوانانو د روزنې په مرکز کې چا وژلی و.

د کیسې تر شا کیسه

اصلي رپوټ

د کابل د ځوانانو په مرکز کې د جدي سرغړونې ادعا

دکیسې تر شا کیسه د آی ډبلیو پی آر د رپوټونو د کار  په وړاندې  د ننګونو څرګندونه  کوي چې  زموږ تر روزنې لاندې خبریالان ورسره د رپوټ  د چمتو کولو په هر ګام  کې  مخامخ دي.

پاتې کیسه

دې پېښې زما په سر کې لسګونه پوښتنې راپیدا کړې. ما له ځانه وپوښتل، څنګه په داسې یو مرکز کې یوه پېښه رامنځته کېدای شي، چې کوچنیان د چارواکو او پولیسو تر مستقیمې څارنې ساتل کیږي.  ما فکر وکړ،  کېدای شي ددې کیسې ترشا ډېرې نورې موضوعګانې هم وي، چې ناویلې پاته دي.

کله چې بله ورځ دفتر ته لاړم، موضوع مې د آی ډبلیو پی آر له یو ادیټور سره شریکه کړه. هغه وهڅولم، چې  موضوع تعقیب کړم. په منډه مې ځان د ځوانانو د توقیف مرکز ته ورساوه.

کله چې هلته ورسېدم، راته څرګنده شوه، چې ددې موضوع په اړه څه لیکل ګران کار دی. آن له دروازې څخه له تېربدو دمخه مې په وړاندې خنډونه جوړ شوي وو.

کله چې مې هلته ځان یو پولیس ته وروپېژاند، چې خبریاله یم، هغه په خندا وویل:  «له دې ځایه څه. دلته ډېر ژورنالستان راغلي، خو یو یې هم نه دی توانیدلی دننه لاړ شي.»

زه وپوهېدم چې باید له زغم کار واخلم.  باید د عدلیې وزارت ته لاړه شم، چې ټول محبسونه یې تر لاس لاندې دي.

په افغانستان کې حکومتي چارواکید ژورنالستانو په وړاندې ډېر خنډونه اچولي دي. هغوی نه غواړي رسنیو ته معلومات ورکړي، ځکه ډاریږي پرکار به یې نیوکې وکړي.

له دې امله هغوی هڅه کوي په یوې لارې او بلې لارې ژورنالستان د رپوټ له لیکلو څخه واړوي، بېلابېلې پلمې ورته کوي، لکه: «د اداري مشر غونډه لري، (یا ناروغ دی یا بهر ته تللی دی.)  سبا ته راشه (بله ورځ یا بله اوونۍ راشه. )»

ما پتېلې وه چې د رپوټ له لیکلو لاس وانخلم. پوره څلور ورځې د عدلیې وزارت ته لاړم  او هلته له کارکوونکو سره له اوږدو غونډو او انتظار او  هره ورځ له نوو پلمو سره له مخاخ کېدو وروسته  په پای کې وتوانېدم د ځوانانو د توقیف په مرکز کې دننه د مرکو د ترسره کولو اجازه ترلاسه کړم.

د اجازې له ترلاسه کولو وروسته مې ډېر ژر ځان نوموړي مرکز ته ورساوه.  له مرکز بهر د لږ ترلږه یو ساعت انتظار وروسته هلته ګومارل شوي پولیس راته وویل: «ته ودربېره، دننه لاړ شم او وګورم چې رئیس شته او که نه او یا تاته د دننه د تګ اجازه درکوي او که نه.»

کله چې مې په پای کې د دننه تګ اجازه ترلاسه کړه، سیده د مرکز د رئیسې، عزیزې عدالتخواه  دفتر ته لاړم.

کله چې یې زه ولیدم  نو سمدلاسه یې راته وویل، اجازه نشته چې له کوچنیانو سره وګورم او نه خپله راسره  مرکه کولای شي. راته یې وویل چې لاړه شم.

ما ورته وویل که چېرته د اړتیا وړ معلومات نه راکوې، نو بېرته د عدلیې وزارت ته ځم. وروسته یې راته وویل چې سبا  ته راشم.

هغې وویل: «ته کوچنیان په دې شرط کتلای شې، چې له هغوی سره نه مرکه وکړې او نه یې عکسونه واخلې.»

بله ورځ راسره عدالتخواه ملګرې شوه او په مرکز کې راسره وګرځېده، راته یې وویل، یوازې د ښوونځي د کارونو په اړه  پوښتنه کولای شې.

موږ د هلکانو یو ټولګی ته لاړو او عدالتخواه د سیورې په څېر راپسې راروانه وه. د هغې په لیدلو کوچنیان ډارېدلی بریښېدل. کله چې یومهال عدالتخواه زما له څنګه لېرې شوه، سمدلاسه مې له یو کوچني څخه  د مسعود د مړینې په اړه وپوښتل.

هغه وېڅېد او ویې ویل: «غټو هلکانو له هغه سره جنسي اړیکي نیولې. مسعود له همدې امله ووژل شو. موږ سم خواړه او د اوسېدو سم ځای نه لرو. وهل ډبول کیږو. د خدای لپاره زموږ سره یو څه مرسته وکړه.»

د هغه خواته يو بل ناست ماشوم  د هغه د خبرو پخلی وکړ او زياته يې کړه: «يو شمېر نابلده خلک دلته راځي او له کوچنيانو ناوړه ګټه اخلي. هغوی دلته هره ورځ جنګ کوي.»

وروسته عدالتخواه راسره د نجونو بلاک ته لاړه.  دا نجونبګيله مندې وې چې  د ولسمشر د ښښنې له په فرمانونو کې نه  او بايد ډېر انتظار وباسي، ترڅو يې څوک پر دوسيو کار وکړي.

له دې وروسته له عدالتخواه سره د هغې دفتر ته لاړم. هغې اعتراف وکړ چې يو شمېر ځوانان له 17کلو څخه پورته عمر لري.  هغوی زورور خپلوان لري، چې د ځوانانو دې مرکز ته يې راوستي دي، ترڅو لنډه موده حبس تېر کړي.

هغې په داسې حال کې چې زه يې د رپوټ نه خپرولو ته هڅولم، وويل: «مور  د هغوی مخه نشو نيولای.»

د مسعود د مړينې په اړه هغې وويل: «زه په هند کې وم او ددې پېښې په اړه زيات معلومات نه لرم.»

کله چې  يې له دفتر څخه  راووتلم،، هلته يو ولاړ پوليس وپوښتلم: «آيا څه په لاس درغلل؟»

ما ورته وويل، پوره معلومات مې لاس ته رانغلل.

هغه راته وويل: «ما پېښه په خپلو سترګو ليدلې. ما وليدل چې دوه هلکان له مسعود سره جنګ کوي. ما اجازه نه درلوده چې مرکز ته ننوځم. بل څوک نه و چې له مسعود سره مرسته وکړي. هغوی د هغه (مسعود) سر له دېوال سره جنګاوه.»

نوموړي د مسعود د کور پته هم راکړه.

د ځوانانو د توقيف د مرکز په اړه د زياتو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره بله ورځ، چې له بنديانو سره د ليدنې ورځ وه، بيا هم هلته لاړم.

د رسېدو پر مهال مې يو ځوان وليد، چې د خپل ورور د ليدنې لپاره هغه مرکز ته راغلی و. ما له هغه وپوښتل چې له خپل ورور څخه ماته يو څه معلومات تر لاسه کړي. زه د هغه دراتګ لپاره د دروازې مخې درې ساعته ولاړه وم. کله چې هغه راغی اوما ورسره خبرې پيل کړې، يو پوليس راغی او ويې ويل: «د څه شي په اړه خبرې کوئ؟  له دې ځايه ځئ! دلته نور ونه دريږئ.»

دواړه په يو ټکسي کې کښېناستو. هغه وويل: «زما ورور ويل، اخلاقي فساد (جنسي بداخلاقي) دلته زښته ډېره ده. غټ هلکان پر کوچنيو هلکانو جنسي تيری کوي. هغوی سم خواړه نه لري، چارواکي يې وهي او ډبوي، د تفريح کوم ځای نه لري، درمل او ښه ډاکټران نشته.»

هغه وويل دخپل ورور د روغتيا په اړه اندېښمن دی.

بله ورځ په ريشخورو کې د مسعود کور ته لاړم، چې په کابل کې د ځوانانو د توقيف له مرکز څخه شل کېلومتره وړاندې پروت دی.

کله چې مې يو ټکسي چلوونکي ته د هغه ځای د تګ وويل، نو لومړی يې راته ښه وکتل، بيا يې وويل: «فکر نه کوم دا به ښه وي چې ته هلته لاړه شې.»

کله چې مې يو بل ټکسي چلوونکی وموند، نو لومړی يې راڅخه زما د دندې پوښتنه وکړه.ما ورته ټوله کيسه واوروله.

هغه وويل: «کاشکې ته په پارلمان کې د خلکو استازې وای! ځکه ډېره زړه سواندې يې. ته ډېره زړوره يې. زه هم هلته درسره ځم.»

د کړلېچنو لارو او کوڅو له وهلو وروسته د مسعود کور ته ورسېدو. د کورن غړي يې لا تر اوسه په ماتم کې ناست وو. پلار يې کور ته د دننه تګ بلنه راکړه. کله چې يې وپېژندلم. ژورنالسته يم، د کورن غړي راڅخه  شاوخوا راتاو شول. د مسعود مور، پلار او خور وويل، زړونه يې ډېر ډک دي، زياتې خبرې لري، چې غواړي ويې وايي.

د مسعود پلار، خليل د ژړا په حال کې د مسعود کوټې ته يوړم او د هغه عکس يې راته وښود.

خليل وويل، هغه [مسعود] ډېره هڅه کړې  وه چې يو شمېر هلکان له جنسي تيري  څخه واړوي او څو، څو ځلې يې ورسره جنګونه هم کړي دي. هغه زياته کړه: «هره پلا چې به د هغه ليدو ته ورغلو، هغه به د توقيف د چارواکو له بې پروای او له اخلاقي فساد څخه شکايت کاوه.»

نوموړي خپلو خبرو ته ادامه ورکړه او ويې ويل، د هغه زوی د غلا د ناسمو تورونو له مخې بندي شوی و. د لاسوندو له نشتوالي سره سره هغه بندي شو. هغه وويل: «د مرکز چارواکو ستونزو ته ترهغه پام نه کاوه، ترڅو زما زوی ووژل شو.»

خليل همدا ويل: «زما زوی له بېګناه سره سره ووژل شو. حکومت بايد مجرمينو ته سزا ورکړي.»

کله چې [د مسعود] له کوره راووتم، يو شمېر ګاونډيانو يې زما شاوخوا ونيوله او راته ويې ويل، مسعود ښه هلک و، هغه جرم يې نه و کړی، چې تور يې پرې لګول شوی و.

يو هلک وژړل او راته ويې ويل: «مسعود د انګليسي په کورس کې زمونږ ښوونکی و. هغه ښه اخلاق لرل او  ښه سړی و. »

ما غوښتل د عدليې وزارت د چارواکو نظر هم د مسعود د وژنې په اړه په رپوټ کې و نغاړم، خو کله چې هلته لاړم له هماغه پخوانيو پلمو سره مخامخ شوم. «معين  نشته، وزير سټړی دی. همدا اوس له يو سفر څخه راستون شوی دی.»

کله چې د وزارت وياند، فريد نجيبي ته ورغلم، هغه وويل: «په دې اړه هيڅ معلومات نه لرم.»

بله ورځ د کورنيو چارو د وزارت د جنايي څېړنو د رئيس، محمد ظاهر دفتر ته لاړم. هغه ددې پېښې له امله ډېر خپه و.

هغه وويل: «[نوموړی] مرکز د فساد پر يو مرکز اوښتی. د [دې] مرکز چارواکي بايد د جدي پلټنو او  څېړنو لاندې ونيول شي. که نه ، نو د داسې پېښو کچه به لوړه شي.»

نوموړي په  غير مسلکي کسانو پړه واچوله چې دا مرکز يې تر لاس لاندې دی. هغه وويل: «کله چې د مرکز مسؤوليت د پوليسو په غاړه وه، تل به مو د کوچنيانو کوټې لټولې او د هغوی تګ راتګ به مو ترڅارنې لاندې و.»

 ما ريوټ بشپړ کړ، سره له دې چې يو څه توکي د چارواکو د نه همکار‍ۍ له امله په لاس رانغلل.

له دې سره سره خوښه يم، چې خپله دنده مې سرته رسولې. د بېګناه تنکي ځوان له وژنې مې پرده پورته کړې او د ځوانانو د توقيف د مرکز پر ستونزو مې رڼا اچولې. کېدای شي هغوی لږ ترلږه د ستونزو د هوار‍ۍ لپاره څه ګامونه واخلي.

**Location:** افغانستان
**Topic:** Children
**Focus:** Story Behind the Story

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%DA%A9%D8%A7%D8%A8%D9%84-%D8%AF-%DA%81%D9%88%D8%A7%D9%86%D8%A7%D9%86%D9%88-%D8%AF-%D8%B1%D9%88%D8%B2%D9%86%DB%90-%D9%BE%D9%87-%D9%85%D8%B1%DA%A9%D8%B2-%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D8%A7%D9%84%D8%AA%D8%A7%D8%AF%D9%8A%D8%A8-%DA%A9%DB%90